عبدالغفور لېوال
۲۰۲۴/۰۸/۱۴

# ولي

# د اګست ۱۵مه

# د ټول افغانستان د سقوط ورځ ده

د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵مه په افغانستان کې یو حکومت نه، یو دولت هم نه، بلکې ټول افغانستان سقوط شو. دا احساساتي او له انساني درده زیږېدلې خبره نه ده، بلکې پر استدلال ولاړ واقعیت دی.

«سقوط» د سین په پېښ (ضم) د سقط له رېښې څخه لوېدلو ته وايي. إسقاط او مُساقَطَه يې نور اشتقاقونه دي او ټول د ساقطېدو په ماناﺍخیستل کیږي. دا ویی په اصطلاح کې د حق یا تکلیف (مکلفیت) له منځه تللو ته وایي.

په یاده نېټه افغانستان هم له لغوي پلوه سقوط شو، هم له اصطلاحي پلوه. له لغوي پلوه افغانستان راولوېد، راوپرځېد او تراوسه لا پرېوتی دی، څنګه پرېوتی؟ روسته به روښانه شي. له اصطلاحي پلوه هم سقوط کړلای شو، مانا ټول مکلفیتونه، مسئولیتونه او حقونه یې په نړیواله تولنه کې له منځه ولاړل. د نړۍ لویو ځواکونو د خپلو موخو لپاره افغانستان په اصطلاحي مانا سقوط کړ. د دوی داسې یو افغانستان په کار و/ دی، چې هېڅ ډول التزامي مکلفیت ونه لري، څوک يې په رسمیت ونه‌پېژني او حقونه یې ورڅخه تروړل شوي وي. په هغه هېواد چې مکلفیتونه او نړیوال مسئولیتونه ونه‌لري، هرڅه او هرڅوک راتللای شي. دلته د نړۍ ټول مذهبي بدمعاشان او انسانوژونکي دېره کېدلای شي، ټولې پوځي نیابتي ډلې خالي جوړولای شي، له دې هېواده هر بل هېواد ګواښل کېدلای شي، ځکه دا هېواد له نړیوالو مسئولیتونو او مکلفیتونو څخه ساقط شوی دی.

خو له لغوي پلوه افغانستان د خپلو خلکو لپاره سقوط کړای شوی دی، یعني راپرېوتی دی. همدا خو ورځې وړاندې خبرونه و، چې ناڅرګندو الوتکو پر ننګرهار و کونړ دوري وهلې، خوست و پکتیا و پکتیکا بمبار شوي. پر ډیورند کرغېړنه کرښه ببرسري وسلوال وځي و ننوځي. د دوښمن پښو ته راپرېوتلی (سقوط شوی) هېواد یعني همدا.

که په افغانستان کې حکومت یا دولت سقوط شوی وای، دومره لویه غمیزه به نه وای. هغسې لکه په بنګلدیش کې چې یو حکومت سقوط شو. دا چې روسته په بنګلدیش څه راځي؟ لا څرګنده نه ده، خو لاتراوسه یې اساسي قانون واکمن دی، بشري پانګه و کادرونه یې پرځای دي، بیرغ یې پر نړۍ رپېږي، نړۍ یې په رسمیت پېژني، ملي پوځ یې د ګډوډۍ مخه ونیوله او د خلکو له ملاتړه لاپیاوړی شو، ښځې یې انساني حقونه لري، ښوونځیو او پوهنځیو ته یې لا د تکفیر کولپونه لویدلي نه دي.

یوه سیاستواله ولاړه پرځای یې د اقتصاد و بانکدارۍ یو داسې متخصص راغی، چې نوبل جایزه یې ګټلې ده. د مدني و تولنیزو فعالیتونو اتل ګڼل کیږي، وایي بنګلدیش ته به ولسواکي راستنوي. بنګلدیش د بنګالي ژبې و بنګالي هویت پر بنسټ جوړ شوی هېواد دی. په نړۍ کې د فبروري یویشتمه ځکه د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ ګڼل کیږي، چې په دې ورځ بنګالیانو خپلې ژبې و هویت ساتنې لپاره خپل هېواد ازاد کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په افغانستان کې تر سقوط روسته ملي هویت کفر ګڼل کیږي. ملتپالنه او ان وطنپرستي کفر دی. د ملي ژبې د ودې و پیاوړتیا ټول بنسټونه یې د تکفیر په ډېره ویشتل شوي او سقوط شوي دي. په همدې تېرو ورځو کې به مو لسګونه رسمي و شرعي فتواوې اورېدلي وي، چې پښتونولي، افغانیت، وطنپرستي، ملتپالنه کفر وبلل شول او د ملي تفکر خاوندان یې کفار وبلل. هغه روانه ده، چې د افغانستان نوم ورو ورو له رسمي سرلیکونو ولویږي. په رسمي محاورو کې یوازې «اسلامي امارت» ډېر نبغ نبغ کیږي. د هویتي او ملي ارزښتونو له نظره ټول (افغانستان) سقوط دی. بیرغ یې راپرېوتلی دی، اساسي قانون نه لري. پر هیڅ نړیوال ستیژ یې څوک په رسمیت نه پیژني. د نړۍ ښکېلاکي ځواکونه ورسره د همدې اصطلاحي «سقوط» په قیمت (تعامل!) کوي. د ډالرو راروانې کڅوړې د افغانستان د سقوط کرایه ده.

همدا څو ورځې وړاندې اعلان وشو، چې له افغانستان څخه اته میلیونه وګړي کډوال شوي دي. دا اته میلیونه عادي انسانان نه دي. دوی لوستي، متخصصان، مجرب کادرونه او ټولنیز فعالین و، چې د اقتصاد و ټولنپوهنې د علم پر بنسټ د دوی وتل یعني د بشري پانګې له منځه تلل. افغانستان له بشري پلوه هم سقوط کړای شوی دی. یو څو د واکمنو عقدې دي، چې وایي: ملتپال، روښانفکران او متخصصان کافران دي. وتل یا نه وتل یې مهم نه دي! خو علم بل څه وایي. بشري پوهنه و اقتصاد وایي، چې له بشري پانګې پرته فیزیکي، مالي او ټولنیزه پانګه هیڅ مانا نه لري. په افغانستان کې څلور واړه سرمایو (پانګو) سقوط کړی، علم راته وایي: موږ څلور ډوله سرمایې لرو، چې یو هېواد پرې ژوندی وي:

## مالي پانګه:

دا ډول پانګه له پیسو، سټاکونو، پوروونو، او هر ډول مالي شتمنیوڅخه جوړه ده، چې د توکو او خدماتو د پیرلو یا پانګوني لپاره کارول کیږي.

## فیزیکي پانګه:

دا پانګه د فیزیکي شتمنیو ټولګه ده، لکه کانونه، ماشینونه، ودانۍ، تجهیزات، زمکه، او بیخبناوې چې د تولید په بهیر کې د توکو او خدماتو د رامنځته کولو لپاره کارول کیږي.

## بشري (انساني) پانګه:

دا ډول پانګه د کار ځواک مهارتونه، پوهه، تجربه، او توانمندیو ته وایي، چې د زده کړې، تجربې، او شخصي پرمختګ له لارې ترلاسه کیږي.

## ټولنیزه پانګه:

ټولنیزه پانګه د یوې ټولنې د انسانانو ترمنځ حقوقي اړیکو، اړیکتیایي شبکو، ټولیز باور، او اجتماعي همکارۍ ته اشاره کوي چې کولای شي د تعاملاتو په اسانولو او اجتماعي او اقتصادي اغیزناکتیا کې مرسته وکړي.

دا څلور واړه پانګې د یوې ټولنې د هوسایني څلور بنسټونه دي، یوه له بلې پرته مانا نه ښندي او له بده مرغه چې دا څلورسره سقوط کړای شوي دي. بشري پانګه ووته، اته میلیونه انسانان ووتل، چې ګڼ شمېر یې متخصص کادرونه وو. هغه برخه لوستي و متخصصان چې په هېواد کې پاتې دي تر شدید سانسور او محدودیت لاندې دي، دندې یې له لاسه ورکړي او په کور ناست دي یا له خپل تخصص څخه په وتلي ساحه کې مزدوري کوي. په رښتیو کې څوک سپوږ وهلای نهشي. دوی خپل حالت یوازې هغه وخت بیانوي، چې له هېواده ووځي. مانا اته میلیونه خو ووتل، هغه شمېر چې پاتې دي، هم موثریت ورڅخه اخیستل شوی دی.

ټولنیزه پانګه هم فلج ده. مدني ټولنه چې د ټولنیزې پانګې د فعالیت بنسټ او ځوځوونکی ځواک دی، له کفر سره مترادفه ګڼل کیږي. د ټولنیزې و بشري پانګو نیمایي وجود خو هغه وخت وژل شوی، چې نجونې و ښځې له ټولو حقونو محرومې دي. نجونې وښځې د نیمایي بشري نفوس په توګه د دې دواړو پانګو نیمایي وجود جوړوي.

مالي پانګې اقتصادي ارزښت بایللی. د پیسو تولیدي او ګټور دوران نهشته. د پیسو هغه کڅوړې چې راځي جرمي اقتصاد چاغوي او د جنګ اقتصاد یې په پښو درولی. د نړیوالي ټولني دغه مسخره تعامل، ناروغ ته د سیروم په بوتل کې د زهرو ورګډول دي ځکه وږیو افغانانو ته نه وررسیږي. میلیونونه انسانان وږي، وزګار او کپ ډوډۍ ته احتیاج دي. د جنګ پیسې له واکمن پوړ سره په ولاړه بڼه زېرمه کیږي او هغوی پرې د خپلې مستبدې واکمنۍ جرړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پیاوړې کوي. تر دې بریده، چې حتی له دغو (تعامل شویو پیسو) څخه د متقاعدینو روا حق نه ورکول کیږي. لسګونه زره متقاعدین، چې د لکونو انسانانو د ژوند برخلیک ورسره تړلی، له لوږې څخه د مرګ پر پوله رنځیږي.

فیزیکي پانګه هم له ګټورتیا لوېدلې. کانونه پاکیستان ته روان دي او ګټه یې د واکمنو جیبونو ته پرېوځي.
د یوه هېواد سقوط یعنې همدا.

موسیقی سقوط ده، سینما سقوط ده، انځورګري سقوط ده، ادبیات و ژورنالیزم سقوط دي. فرهنګ له کفر سره مترادف دی. د واکمنو نړۍ د هغوی د بیرغ په شان تور و سپینه ده، بل رنګ په کې نشته. د پاکیستان له استخباراتي مدرسو فارغان یې چې خوښ دي سپین دي، نور ټول هېواد و هېوادوال تور دي. رنګ و رنګین ژوند کفر دی. هنر و فرهنګ چې د رنګارنګ ژوند نښې دي سقوط شوي دي.

او دې ته وایي له اصطلاحي او لغوي دواړو اړخونو د یوه هېواد سقوط، چې ښایي مخه یې ونیول شي.

## څه باید وشي؟

تر هرڅه وړاندې باید ټولنه د دغه دردناک او غمجن سقوط په ماهیت وپوهول شي. مخکې مو وویل، چې سقوط یعنې رالوېدل. که یو انسان له لوړې په سرراوغورځول شي، ګنګس وي، په سترګو یې توره شپه شي، نهپوهیږي څه ورپېښ شوي دي؟ زموږ ټولنه هم همداسې رالوېدلې، په سر راپرېوتلې ده، ګنګسه ولاړه ده او نه پوهیږي څه ورپېښ شوي، یوازې درد احساسوي او خواشیني.

ټولنه باید راویښه کړو، له ګنګستیا څخه یې وباسو. هغو دوښمنو چې ټولنه یې له لوړ ځایه ټېلوهلې او غورځولې ده، دغه ګنګستیا او درد یو مقدس حالت ګڼي. دوښمن زموږ ټولنې ته وایي: « دا سپېڅلې ګنګستیا ده او له دې څخه راوتل کفر دی. » موږ باید ټولنه خبره کړو، چې سقوط کړای شوې او دوښمن یې دروغ ورته وایي.

ټولنه باید د خپل سقوط له ټولو ابعادو، عواقبو او هراړخیزو اغېزو خبره کړو. ټولنه باید پوه شي، چې د اته میلیونه کادرونو وتل یوازې له میندو پلرونو او خواخوږیو د زړه د ټوټو بېلتون نه دی، بلکې دا غمیزه تر دې ژوره ده. د وطن مانا له وطن څخه وتلې ده. د اته میلیونه بشري پانګې وتل د واکمنو د مسخرو او ریشخندونو په شان یوه مسخره خبره نه ده، بلکې ملي ناورین دی. دا سقوط د کفر او اسلام په ترازو کې مه تلئ، بلکې دا سقوط د خپلو اولادونو د راتلونکې تباهي وبولئ، د یوه هېواد له لاسه تلل یې وګڼئ او د افغانستان سقوط یې وبولئ!

د دې سقوط مخه یوازې او یوازې له ګنګستیا څخه راویستل شوی او ویښ کړای شوی ملت نیولای شي.
اته میلیونه راوتلې بشري پانګه باید شپه و ورځ د خپل ملت د راویښولو او د تکفیر له ګنګستیا څخه د راایستلو لپاره هڅه وکړي او ولس ته دا وړتیا ورکړي، چې دوی په یوه ځلوېښت میلیوني اراده د دې سقوط مخه نیولای شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ